اسد زمری

# لار ورکی

سترګي مي نه وي خلاصي کړې چي د مور په نس کې ،
زما غوږونه د چاودنو کنونکو غږو وچوول ؛
او ما تر خپلې ژړا وړاندې:
یوه سوزناکه کریکه،
چي مي د مور په بدن
د توغندي له توټي
د تپ له سوزه جګه شوې وه
هم واوریدله؛
مور مي ټپي شوه او زه وزیږیدم
*****

ټول چا پیر یا ل زما لمبه لمبه وو ؛
ماته د ګلو د غنچو پر ځای لمبې د ا لې شوې
او د بار وتو........
د لوګیو.......
. د ا نسان د کباب شویو غوښو تند بو یو نه
زما خوښۍ کې چا توپک ونه و یشت ،
خو د راکټو او بمونو.....
د.... دهشکو او هاو ا نونو
د... ما شینداړو او ماینونو
وحشي او جګ غږونه ؛
. له هرې خوا نه را تلل
زما خوښۍ کې هیڅ چا ونه خندل،
د... کریکو

... چيغو
.....سا ندو
او له سوزه ډک  ډک  د ژړا غږونه ،
له  هرې  خوا  نه ر ا تلل؛
او د شيدو له خوند نه  وړا ندې
. ما ددردونو او د وينو مزه و څکله
د  تيپي  مور  له سينې،
.ما له  شيدو  سره  د وينو  ډک غږيونه  کول
د  تيپي  مور له  غيږ ې،
ما  د  دردونو، عذ ا بونو احساسونه کول
د  تيپي  مور  له شونډو؛
ما  د  خند ا و  په ځا ی،
او  خپل  ماشوم  ته  د يوې مور د موسکاوو په ځای؛
د غاښ چيچي ،
.او نا لښتو  ترخه  سيلونه کول

اوله  ورځ  د  ژوندون ،
.دغسي پيل  کړله  ما
: سبا  ته  پوه  شومه چې
پلار مې د  جنګ  تورې بلا خوړلی
او د  خپل  ورور  په لا سو،
د بل  د  تور تو پک  د  خولې  نخښه شو؛
تره مې  هم  ګوډ وه  او  پښه يې  نه وه؛
ماما مې   تل بهر  وو،
د کور  په ځای يې  هميشه  په غرو  کې  ژوند تيرا وه؛
د نيکه  سترګه  مې  ړنده  په ګولی؛
نيا مې  له  ډيره  غمه ،
.ډيره  ذهيره  او  زړه ښکا ر يده
او د وحشت  سپيره  ګردونه  مدام،
.زما  د ورور  او  خور  پر  مخ پراته وو
، د ترور ، تورې نومونه
ماته  تر اوسه  پورې،
لا کوم  مفهوم  نه  لری؛
ما دوي  هيڅ  ونه  ليدل ,

. اونه هم نور کوم خپلو ا ن
چي د خاپوړو شومه
او لږ د لوبو شومه
نومې مرمۍ،خول، نارنجک او یا تو پک لیدلی،
یا مې تور ټانک، راکټ او یا خالي پوچک لیدلی ،

په مدرسه کې یې ماته
، لوست د وژ لو راکړ
شمیرمې بیا هم له توپکونو ، راکټونو او بموسره وو
. یا له ټپیا نو ،شهیدا نو او له مړو سره وو
:ماته یې دا وښودل
که دوه کافره کړو مردار
نو به له لسو ځني ،
.اته ګولۍ ځا نته خوندي ولرو
مکتب ته تللی نه یم،
پوهې بللی نه یم،
هیڅ چا ګڼلی نه یم؛
پرته له خوارۍ مورکی
چي غیږ کې یې ونیولم
اود خپل ستړي ژوندون،
او خپل د سوي ژوندون،
دتا لا شوي او لوټ شوي ژوندون
د ستو ما نۍ د ورکېدو په هیله
د یو سکوت او سوکا لی
اود یو ژوند
د ا نسان ژوند ته
درسیدو په هیله؛
له ملکه وا یستلم ؛
*****

سترګې مې خلا صې شوې د غرب د نیا ته
دغه زرین مرغه ته ؛
او په پردي فرهنګ وروا ښتمه ؛

زما په سترګو کې لا ،
دا توان نه وو چې زه ،
هر څه روښانه، هر څه ښه ووینم ؛
زما د ذهن په خالي کوڅو کې ،
د غرب د شور اود غوغا غږونه ،
، د بې پا یا نه ښادۍ
د بې پردې او بې وسوا سه بد مستۍ شورو نه ؛
. هره خوا و غځيد ل
او زه لار ورکی شومه
اوس سرګرد ا نه ګرځم ،
نه مې وطن چيرته پيدا کړ, نه مې مېنه خپله ،
نه مې د پلار سيورى ته کښينا ستم په مينه چيرته ،
. نه مې د ورور او خور په مړينه شوم غمګينه چيرته
نه مې څوک خپل ګڼي اوس
نه مې د بل ګڼي اوس ،
خو زه د سوي ، تالا شوي هيواد ،
د ځپل شوي هيواد ،
....د يو ه هير شوي او له نړۍ نه نفرين شوي هيواد
افغانستان» اولاد يم »
سوځم او ژاړمه تل
او هميشه نا شاد يم

جون 2016 ، جرمنی